مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۸/۱۲/۰۴

# غزل

ګوره نړۍ ته، په ګلونو باندې اور وروي
په ښکلي فکر او خیالونو باندې اور وروي

وشوه موده د ژوند خوندونه مې لیدلي نه دي
وینم د غم سیلۍ رنګونو باندې اور وروي

زړه کې دردیږم خو د خولې ښخه مې اه نه باسم
درمان د زړه مې ټکورونو باندې اور وروي

لکه زخمي ښامار په خوب کې لټ په لټ اوښتم
د وخت لمبې مې په خوبونو باندې اور وروي

ای پسرلیه! ګیله مکړه د نصیب د کرښو
د بخت دا کرښې ارمانونو باندې اور وروي

مصطفی پسرلی
06/09/2018